شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**د حديث شريف ژباړه:**

**متقابل درناوی:** يو عمر خوړلی سړی د نبي علیه السلام ليدو ته راغی، خلکو د کښېناستو ځای ژر نه کړ ورته خالي. نبي علیه السلام وفرمايل: کوم سړی، چي زموږ پر کوچنيانو مهربان نه وي او زموږ د لويانو عزت نه کوي، هغه زموږ له ډلي څخه نه دئ.

رواه الترمذي باب ما جاء في رحمة الصبيان (ص:١٤ ج: ٢).

**ترجمه حديث شريف:**

**احترام متقابل:** شخصی سالمند به ديدار رسول علیه سلام آمد، مردم جای نشستن برايش زودتر خالی نکرد. نبی علیه السلام فرمود: شخصيکه بالای اطفال مهربان نباشد و احترام به بزرگان نداشته باشند، وی از جمع ما نيست.

رواه الترمذي باب ما جاء في رحمة الصبيان (ص:١٤ ج: ٢).

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

شنبه | د صفرالمظفر ٢٠-١٤٤٦ال س/ د وږي ٣-١٤٠٣ال ل/ د اگسټ ٢٤-٢٠٢٤ز/څلورم کال / ١١٢ گڼه/ ٤ مخيزه



# سر مقاله

## د افغانستان او ازبکستان ترمنځ د اقتصادي تړونونو ارزښت

دا چي لـه يـوې خـوا د افغانسـتان شـتمني کنـگل سـوې ده، چـي دې چـاري پـر اقتصـادي ماحـول يـو ډول سـيوری غوړولـی او ډېـری پانگـوال او سـوداگرد تـر منفـي تبليغاتـو لانـدي راغـلي او د دوښـمن مکرونـو پـه بلـه اړولـی دي. بـل خـوا يـو شـمېر هيوادونـه، چـي د پرديـو تـر سـيوري لانـدي دي لـه افغانسـتان سره د دوه اړخيـزه اړيکـو پـه سـاتلو کـي بـې زړه ښـکاري؛ خـو کـه خـبره د امنيـت سي، د افغانسـتان امنيت د سـيمي د هيوادونـو پـه کچـه بـې سـاری دئ، پانگوالـو او سـوداگرو تـه چمتـو سـوي اسـانتياوي او تخفيفونـه پـه گاونډيـو هيوادونـو کـي بيلگـه نـه لـري او اسـلامي امـارت هـرراز همـکاری تـه هـم چمتـو دئ. لـه بـل پلـوه ځينـي گاونـډي هيوادونـه سـته، چـي د اسـلامي امـارت پـه راتـگ سره لـه دې هيـواد سره د ښـو اړيکـو پاللـو ترڅنـگ پـه اقتصـادي ډگـر کـي تـر ډېـرو مخکـښ دي او د ښـو اقتصـادي او سـوداگريزو اړيکـو د لا پيـاوړي کولـو لـه پـاره د روابطـو تـول خنډونـه لـه منځـه وړي؛ لکـه د ورونـو هيوادونـو پـه څېـر سره پـالي. دغـه گاونـډی هيـواد ازبکسـتان دئ او لـه دغـه نظـام سره ئـې تربـل هـر چـا ښـې اړيکـي سـاتلي، د افغانسـتان ټينـگ امنيتـي وضعيـت تـه پـه کتـو ئـې گڼـو سـوداگرو پـه دې هيـواد کـي پانگـوني تـه زړه ښـه کـړی او د ازبکسـتان حکومـت لـه افغانسـتان سره د ميليونونـو ډالـرو پـه ارزښـت تړونونـه لاسـليک کـړي دي او د راتلونکـو فرصتونـو لپـاره دواړه هيوادونـه نـور هـم د پرمختـگ پـه حـال کـي دي. گاونـډي هيـواد ازبکسـتان د لومـړي وزيـر ښـاغلي عبداللـه اريپـوف پـه لومـړي ځـل راتـگ سره د دواړو هيوادونـو د لـوړ پـوړو چارواکـو ترمنـځ د (٢,٥) ميليـارده ډالـرو پـه ارزښـت د پانگـوني پـه برخـو کـي تړونونـه لاسـليک کـړي، چـي دغـو تړونونـو افغانسـتان تـه د ازبکسـتان د لومـړي وزيـر پـه راتـگ سره لا ډېـر ارزښـت پيـدا کـړ او د جانبينـو پـر دوسـتانه اړيکـو ئـې مسـتقيم اغېـز وکـړ. دا چـي اسـلامي امـارت غـواړي هيـواد تـه بهرنـۍ پانگونـه راجلـب کـړي؛ نـو ئـې پـه (٣٥) بيلابيلـو برخـو (د کـرني، انـرژی، زېربنـاوو او توليـد پـه گـډون پـه يـو لـړ سـيکټورونو) کـي دغـه هوکـړه ليکونـه لاسـليک کـړي او د اقتصـادي ثبـات د پايښـت لـه پـاره پـه نـورو سـترو کارونـو هـم کار کـوي. پـه دغـو تړونونـو کـي د (١,٤) ميليـارده ډالـرو پـه ارزښـت (١٢) تړونونـه د پانگـوني او د (١,١) ميليـارډ ډالـرو پـه ارزښـت (٢٣) تړونـه د سـوداگرۍ پـه برخـه کـي دي. د دواړو هيوادونـو لـه لـوري د سـوداگريزو معلوماتـو لـه خپرولـو څخـه ښـکاري، چـي سـږکال د دواړو لوريـو ترمنـځ اقتصـادي فرصتونـه (يـو) ميليـارډ ډالـرو تـه لـوړ سـوي او پـه راتلونکـي کـي بـه تـر (٣) ميليـارډو پوري لـوړ سي. د اسـلامي امـارت او ازبکسـتان ترمنـځ اقتصـادي او سـوداگريزي اړيکـي ورځ تربـلي پـه ښـه کېـدو دي او پـه سـيمه ييـزه کچـه دغـه تړونونـه افغانسـتان د نـړۍ د بازارونـو، پراخـي سـوداگرۍ او راکـړي ورکـړي پـه قطـار کـي شـاملوي.د دواړو هيوادونـو ترمنـځ سـوداگري د (٢٠٢٤ز) پـه لومړيـو شـپږو مياشـتو کـي (٤٦١,٤) ميليـون ډالـرو تـه رسـېدلې ده، چـي د (٢٠٢٣ز) د همـدې مـودې پـه پرتلـه (٢٤,٥٪) زياتوالـی څرگنـدوي. افغانسـتان تـه د ازبکسـتان صـادرات، چـي د اړتيـا وړ توکـي؛ لکـه: خوراکـي توکـي او انـرژي پـه کښـي شـامل دي، پـه پرلـه پسـې ډول مـخ پـر زياتېـدو دي. ازبکسـتان پـه افغانسـتان کـي د (٧٥) کيلوميتـرو پـه اوږدوالي د اورگاډي پټلـۍ د بيارغـوني پـه گـډون پـه څـو مهمـو زېربنايـي پـروژو کـي هـم برخـه اخيسـتې ده، چـي موخـه ئـې د دواړو هيوادونـو ترمنـځ د اړيکـو پراختيـا او د سـوداگرۍ اسـانه کـول دي. بالاخـره؛ د ازبکسـتان د لومـړي وزيـر پـه راتـگ سره د دواړو هيوادونـو ترمنـځ د دغـو سـترو تړونونـو لاسـليکول پـه اقتصـادي ډگـر کـي د افغانسـتان لـه پـاره يـو ښـه زېـری دئ، د پانگوالـو د هڅـوني لـه پـاره ښـه بهانـه ده او د سـيمي د هيوادونـو لـه پـاره هـم ښـه فرصـت دئ، چـي افغانسـتان تـه پـه اقتصـادي او سـوداگريز ډگـر کـي لاس ورکـړي، خپـل پانگـوال وهڅـوي، بيـن الحکومتـي اړيکـي ټينگـي کـړي او د سـيمي او اسـيايي هيوادونـو د پرمختـگ لـه پـاره يـو نـوی ميکانيـزم جـوړ کـړي. پـه افغانسـتان کـي د امنيـت لـه ټينگښـت سره هـرراز فرصتونـه برابـر دي او د کورنيـو او بهرنيـو پانگوالـو لـه پـاره ښـه زمينه برابره سـوې ده.

درنښت

اداره

# د مسلکي محاسبينو اداري د مسلکي بورسونو د ورکړي لړۍ پيل کړه





**د افغانستان د مسلکي محاسبينو اداري د مسلکي بورسونو د ورکړي بهير پيل کړ.**

**د مسلکي محاسبينو د ښې روزني او د دغي برخي د لا پياوړتيا په موخه مسلکي بورسونه (ACCA) وړاندي کېږي، چي ټول لگښت ئې د ماليې وزارت له لوري د يادي اداري له ترتيب سوي کړنلاري سره سم ورکول کېږي.**

**په نيږدې راتلوونکي کې به د مسلکي محاسبينو اداره د افغانستان په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د مسلکي محاسبې په برخو کې د جواز ورکولو لړۍ هم پيل کړي.**

د ماليـې وزارت پـه مـالي معينـت پـوري اړونـد د افغانسـتان د مسـلکي محاسـبينو اداره (CPA)، چـي د مسـلکي محاسـبينو د روزنـې، جـواز ورکولـو او د محاسـبوي معيارونـو د عمـلي کولـو چـاري تـرسره کـوي، د مسـلکي بورسـونو د ورکـړي بهيـر ئـې پيـل کـړ. پـه همـدې تـړاو پـه جـوړه سـوې غونـډه کـي د ماليـې وزارت مـالي معيـن حاجـي عبدالقديـر احمـد، د دغـه وزارت يـو شـمېر رئيسـانو، د يـو شـمېر وزارتونـو او امـارتي ادارو اسـتازو او د مسـلکي ښـوونيزو بنسـټونو يـو شـمېر محصلانو گډون کـړی وو. د ماليـې وزارت مـالي معيـن د مسـلکي محاسـبينو روزنـه او شـتون اړتيـا وبللـه او پـه دې برخـه کـي ئـې د مسـلکي محاسـبينو اداري فعاليتونـه خـورا ارزښـتناک تعريـف کـړل. مـالي معين زياتـه کـړه، چـي پـه نـړۍ کـي د مسـلکي محاسـبې برخـي تـه ځانگـړي پاملرنـه کېـږي، خـو لـه بـده مرغـه پـه افغانستان کـي دغـه برخـي تـه کار نـه دئ سـوی او پـه امـارتي او خصـوصي ادارو کـي ئـې تشـه موجـوده ده. ده زياتـه کـړه، چـي د ماليـې وزارت دغـه اړتيـا درک کـړې ده او د اسـلامي امـارت له بيـا حاکميـت را ورسـته ئـې د کړنـلارو پـه جوړولـو او د مسـلکي محاسـبينو گـډ بـورډ پـه رامنځتـه کولـو سره د افغانسـتان د مسـلکي محاسـبينو اداري د فعاليتونـو پيـل تـه زمينـه برابـره کـړه، چـي اوسـمهال يـادي اداري خپـل فعاليتونـه پيـل کـړي دي. د خزاينـو لـوی رئيـس وويـل، چـي د مسـلکي محاسـبينو اداري د چـارو د پيـل پـه موخـه ئـې پـه لومـړي قـدم کـي يـو گـډ مسـلکي بـورډ رامنځتـه کـړی. دغـه بـورډ د خپلـو ناسـتو پـه لـړ کـي د اداري لپـاره مسـلکي کسـان و گومـارل، همـداراز پـر نړيوالـو معيارونـو برابـر لارښـود ئـې جـوړ کـړ، د غړيتـوب او جـواز ورکولـو پاليـسي او د سکالرشـيپونو د ورکـړي کړنـلاره ئـې ترتيـب او منظـور کـړه، چـي ورسره د يـادي اداري د چـارو پرمختـگ تـه ښـه زمينـه برابـره سـوه. ښـاغلي نـصرت اللـه محمـود يادونـه وکـړه، چـي پـه نيـږدې راتلوونکـي کـي بـه د مسـلکي محاسـبينو اداره د افغانسـتان پـه تاريـخ کـي د لومـړي ځـل لپـاره د مسـلکي محاسـبې پـه برخـو کـي د جـواز ورکولـو لـړۍ هـم پيـل کـړي. د افغانسـتان د مسـلکي محاسـبينو اداري سرپرسـت وويـل، چـي د مسـلکي محاسـبينو د ښـې روزني او د دغـي برخـي د لا پياوړتيـا پـه موخـه مسـلکي بورسـونه (ACCA) وړانـدي کـوي، چـي ټـول لگښـت ئـې د ماليـې وزارت لـه لـوري د يـادي اداري لـه ترتيـب سـوي کړنـلاري سره سـم ورکول کېږي. د بورسـونو د پيـل سـوي پروسـې پـه اړه د لا پوهـاوي لپـاره لانـدي برېښـناليک تـه مراجعـه وکـړئ:
cpa.scholarship@mof.gov.af

# د ماليې وزير د کرني اوبو لگولو او مالدارۍ له وزير سره وکتل






د ماليـې وزيـر محـترم الحـاج مـلا محمـد نـاصر اخونـد د کـرني، اوبـو لگولـو او مالـدارۍ لـه وزيـر محـترم مولـوي عطـا اللـه عمـري سره وکتـل او پـر يـو لـړ مهمـو مـلي موضوعاتـو ئـې خـبري وکـړې. پـه دغـه ناسـته کـي، چـي د يـادو وزارتونـو معينانـو او يـو شـمېر رئيسـانو هـم حضـور درلـود، د دواړه وزارتونـو د دوهمـي واحدونـو ترمنـځ د لا ښـې همغـږۍ پـه رامنځتـه کولـو، د مخابـراتي انتنونـو پـه تثبيـت، د نويـو عوايـدي سرچينـو پـه تثبيتولـو، پـه شـفاف ډول د مـلي عوايـدو پـه راټولولـو او د مخکنيـو باقياتـو د تثبيـت پـر موضوعاتـو خـبري او لازمـي پرېکـړي وسـوې. پـه پـای کـي ځينـي موضوعـات تخنيکـي کمېټـو تـه وسـپارل سـول؛ تـر څـو لـه تخنيکـي او مسـلکي څېړنـو ورورسـته ئـې پـه تـړاو اصـولي اجراآت ترسره کـړي.



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين هرات ولايت ته سفر وکړ

٢



د چاپيريال ساتني ملي اداري د عوايدو پر زياتوالي خبري وکړې

٢



برنامهٔ آموزشی تحت عنوان "مسلکی سازی" برای ۳۳ تن از آمرین مستوفیت های ولايتی داير گرديد

٣



له ۱۴ وزارتونو او امارتي ادارو سره د عايداتي پروژو د تحليل او تطبيق په موخه ناسته وسوه

٢



د مديرانو لويي او عامي تېروتني!

٣



ازبکستان او افغانستان د (٢,٥) بيليون امريکايي ډالرو په ارزښت (٣٥) د همکارۍ تړونونه لاسليک کړل

٤

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه



# د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين هرات ولايت ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس) د يوه پلاوي په مشرۍ هرات ولايت ته رسمي سفر وکړ او د دغه ولايت په گمرک کي د اورلگېدني له زيانمنو سره ئې خپله خواخوږي ښکاره کړه. نوموړي د هرات په گمرک کي د رامنځته سوي اورلگېدني سيمه له نيږدې وليده او پر دې سربيره ئې د يو شمېر ولايتي مسئولينو او سوداگرو ستونزي هم واورېدې.

ښاغلي حاجي ادريس، د اورلگېدني په اړه خواشيني ښکاره کړه او د دغي پېښي د مهارولو په برخه کي ئې د ولايتي ادارو او خصوصي سکټور له هلو ځلو څخه مننه وکړه او ټينگار ئې وکړ، چي په راتلونکي کي بايد د داسي پېښو د مخنيوي لپاره اړين اقدامات ترسره سي. په پای کي ښاغلي معين د يادي پېښي د ځرنگوالي او اوښتي زيانونو په اړه دوی ته د هر اړخيزو څېړنو ډاډ ورکړ.



# د چاپېريال ساتني ملی اداري د عوايدو پر زياتوالي خبري وکړې

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال مولوي منصورالحق ذاکر د چاپېريال ساتني ملی اداري له لوی رئيس مولوي مطيع الحق خالص سره د دغه اداري د عوايدو د لوړولو په موخه ناسته وکړه د عوايدو لوی رياست حمايوي مرستيال د چاپېريال ساتني ملي اداري له همکارانو څخه د عوايدو د لوړوالي په برخه کي د همکارۍ غوښتونکی سو او له شته



فرصتونو څخه پر ښې گټې اخيستني ئې ټينگار وکړ. د چاپېريال ساتني ملی اداري لوی رئيس ډاډ ورکړ، چي د عوايدو د ښه راټولولو له پاره به د چاپېريال ساتني ملي اداري تخنيکي همکاران دعوايدو لوی رياست له کارکوونکو سره په همغږۍ کارونه پر مخ وړي؛ تر څو په چارو کي لا ډېر سمون او پرمختگ رامنځته سي.

# د گمرکونو او عوايدو معين د نورستان ولايت له مستوفيت څخه ليدنه وکړه

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس) نورستان ولايت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کي د دغه ولايت له مستوفيت څخه ليدنه وکړه. ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس) د نورستان ولايت که مستوفي سره د لېدني پر مهال، په تېر مالي کال کي د ياد مستوفيت په ترسره سوو فعاليتونو خبري وکړې، د ښو خدمتونو وړاندې کولو او له مراجعينو سره د ښه چلند او هغوی ته د اسانتياوو برابرولو له امله ئې د دغه مستوفيت له رهبرۍ څخه د منني او قدرداني سربېره ئې، د چارو د لا ښه والي په موخه له



دوی سره يو لړ اړيني سپارښتني هم شريکي کړې. د يادوني وړ ده، چي له دې وړاندي هم د گمرکونو او عوايدو معين د يو شمېر ولايتونو مستوفيتونه له نيږدې څخه ليدلي دي او د چارو ارزونه ئې کړې ده.

# برنامۀ آموزشی تحت عنوان "مسلکی سازی" برای ۳۳ تن از آمرین مستوفيت های ولايتی داير گرديد

رياست منابع بشری وزارت ماليه در هماهنگی با رياست عمومی عوايد برنامه آموزشی‌ای را تحت عنوان "مسلکی سازی" برای ۳۳ تن از آمرين مستوفيت های ولايتی طی مراسمی در سالون کنفرانس های اکادمی ملی عوايد و گمرکات داير نمود. در اين مراسم، انجنير عبداللطيف خالد رئيس عمومی تفتيش داخلی وزارت ماليه، مولوی منصور الحق ذاکر معاون حمايوی رياست عمومی عوايد، مولوی احمد شاه شاکر رئيس منابع بشری، مولوی عبدالمجيد نجيب الله رئيس انسجام و انکشاف عوايد ولايتی و شماری ديگر از مسئولين وزارت ماليه اشتراک داشتند. نخست رئيس منابع بشری در سخنان افتتاحيه اين برنامۀ آموزشی گفت، ما برای ارتقای ظرفيت مسلکی شما کوشش نموده با راه اندازی برنامه های آموزشی



آنلاين و حضوری مسئوليت وظيفوی و الهی خويش را اداء کرده ايم. وی گفت، اين برنامه های آموزشی برای شما سرنوشت ساز است؛ پس جهت ارتقای ظرفيت خود و اجرای امور به صورت اصولی و مسلکی از آن استفاده اعظمی کنيد و در اخير برنامه امتحان را موفقانه سپری کنيد در غير آن ما مجبور می شويم افراد ديگر را در عوض شما استخدام نماييم.

متعاقباً رئيس عمومی تفتيش داخلی طی سخنانش گفت، آمرين عوايد مستوفيت ها و کسانيکه در ادارات عوايدی کار می کنند بايد مسئوليت ها و صلاحيت های خود را درک کنند و نظر به آن اجراآت نمايند. در کنار فهم درست از مسئوليت ها و صلاحيت ها دو ويژگی بايد داشته باشند يکی امانت دار باشند و ديگر تخصص داشته باشند. امانت داری و تخصص لازم و ملزوم يک ديگر برای اجرای اصولی امور و جلوگيری از فساد است. قابل ياد آوريست که اين برنامه آموزشی برای (۱۵) روز ادامه داشته و در آن قوانين ماليات بر عايدات، طرزالعمل های عوايد، بررسی و سيستم سگتاس به اشتراک کنندگان تشريح خواهد شد.

# له ۱۴ وزارتونو او امارتي ادارو سره د عايداتي پروژو د تحليل او تطبيق په موخه ناسته وسوه

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د حمايوي مرستيال او کفيل، مولوي منصور الحق ذاکر په مشرۍ له (۱۴) وزارتونو او امارتي ادارو سره د عايداتي پروژو د ارزوني او پلي کولو په موخه ناسته وسوه. په دغه ناسته کي يادو وزارتونو او امارتي ادارو د خپلو پروژو په هکله هر اړخيز معلومات وړاندي کړل او پر هغو مهمو عايداتي پروژو خبري وسوې، چي د عملي کولو له پاره ئې بوديجه په واک کي سته؛ ترڅو په پلي کولو سره ئې د يادو وزارتونو او ادارو د عوايدو په کچه کي مثبت بدلون راسي. په دغه ناسته کي همداراز هغو وزارتونو او امارتي ادارو ته، چي عوايدي کسر لري د عوايدو لوی رياست د رهبرۍ له لوري لازمي سپارښتني وسوې او عوايدي فرصتونه ورته په نښه سول؛ ترڅو ياد وزارتونه او امارتي اداري له سته فرصتونو څخه گټه پورته کړي او خپل عوايدي هدف په ښه ډول تر لاسه کړي.



# کار ساخت ليليه گمرک ابو نصر فراهی (٦۰) درصد تکميل شده است



پروژه ساخت ليليه در گمرک ابونصر فراهی از سوی رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه به سرعت جريان دارد که تاکنون (٦۰) درصد پيشرفت داشته و تا سه ماه آينده به بهره برداری سپرده خواهد شد. اين پروژه حدود (۱۲.۸) ميليون افغانی هزينه را در بر ميگيرد که از بودجه انکشافی وزارت ماليه پرداخت می شود و کار آن نيز توسط يک شرکت افغانی انجام می شود. قابل ذکر است که کار اين پروژه در ماه قوس سال مالی (۱۴۰۲ هـ.ش) آغاز شده بود و در ماه عقرب سال جاری (۱۴۰۳هـ.ش) به اتمام رسيده و به بهره برداری سپرده خواهد شد که با تکميلی اين کار تسهيلات زيادی به کارمندان گمرک مذکور ايجاد خواهد شد.

# په ځينو ولايتونو کي په زياته کچه وارداتي قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی رياست د گرځنده څارني څيرکو کارکوونکو تېره اوونۍ د فراه، نيمروز، هرات او کندهار ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته کچه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کي (۷۲) ټنه او (۷۵۰) کيلو گرامه سيمېنټ، (۵۲۰۸) کيلو گرامه رُب، (۱۴۲۴) کيلو گرامه مکروني، (۱۰٦۷) کيلو گرامه چاکلېټ، (۴۲۰) کيلو گرامه انساني طبي درمل، (۲۳۴۰) کيلو گرامه لوبيا، (۱۵۰۰) کيلو گرامه د لوښو وينځلو مايع او (۵۰) کارټنه شامپو شامل دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي دوامداره فعاليت کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي صادر او يا وارد کړي.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# د مديرانو لويي او عامي تېروتني!

عبدالجبار وحدت
د ملي بوديجې اجرائيوي رئيس

مديريت د تنظيمولو او په کمو سرچينو د ډېرو اهدافو تر لاسه کولو يو علم او هنر دی او مدير د کارونو تنظيموونکی دئ، د ټولو چارو د مديريت مسئوليت پر غاړه لري، د برجسته او مدبر مدير په صورت کې اغېزناك مديريت شوني دئ، يو وخت دا فکر او تعريف عام وو، چې د خپلو کارونو تر سره کول په بل چا مديريت دئ، مګر نن دا تعريف او فکر رد سوی دئ، مدير د ټولو چارو او تصميم نيوني مسئوليت پر غاړه لري. نو بايد مسئوليت منونکی وي، دلته ځيني هغه تېروتني، چې بايد مديران ئې اصلاح کړي او يا ئې مخنيوی وکړي په لاندي ډول دي:

۱. د اړيکو په رامنځته کولو کي کمزوري:

نن ورځ د موفقيت د حوزې متخصصين په دې باور دي، چې د انسان (۷۵) سلنه برياوي او لاسته راوړني د اړيکو په واسطه شوني دي، البته دلته اشاره، کاري او علمي اړيکو ته ده، هغه اړيکي نه دي، کوم چې عام خلك ډېر منفي مفهوم ترې اخلي، نو ځکه وايي چې له ښه دوست سره په تياره کي قدم وهل، د ورځي له تنهايي قدم ښخه غوره دئ. Danto Marquez وايي چې مدير هغه ښوك دئ، چې د نورو له طريقه خپلو مطلوبه غوښتنو ته ځان رسوي، نو يو مدير بايد له دې برخوردار وي او د نورو لپاره بايد الهام بښونکی وي، ځيني وخت اړتيا ده، چې مرتبط مسائيل له نورو همکارانو وپوښتي، مګر غرور او خودخواهي د دې مخنيوی کوي.

۲. ميرزاقلمي:


ډېری مديران د کار کوونکو په کار د انتقاد نه کول په خپله کمزوري تعبيروي او په همدې اساس بې اړتيا تغيرات او ملاحظات لري او يا ځيني اسانه کارونه دومره پېچلي کوي، چې له حده زيات، دا خپله يوه مديريتي تېروتنه ده.

۳. بې ځايه ديکتاتوري:

ځيني وخت ځيني مديران داسي برخورد کوي، ته به فکر کوې، چي د جګړې لومړی کرښه ده. هدف دا چي ديکتاتوري خپله يوه مديريتي تېروتنه ده، په ځينو وختونو کي ممکن ديکتاتورانه ليډرشيپ اغېزناك وي، مګر هر وخت نه.

٤. بې ځايه تشريفات:

ډېری وخت د قيافې بدلول، د الفاظو بدلول



او حتی د حرکاتو بدلول، يا په کل کي له حده زيات تشريفاتي اوسېدل يوه مديريتي ستونزه ده.

۵. شك يا د تصميم نه نيول: دوه زړی توب خپله يوه لويه ستونزه ده، چي د کارونو د ځنډ او خنډ سبب ګرځي او په عين حال کي د مديريت د ضعف مانا لري، چي دا يوه مديريتي تېروتنه بللی سو.

٦. منزوي توب:

ځيني مديران داسي فکر کوي، چي زه يوازي يم، ځان منزوي حسابوي او په يوازي ځان تصميمونه نيسي، چي دا هم مديريتي تېروتنه ده.

۷.د کار کوونکو داخلي پوټانشيل او بالقوه ظرفيت نه معلومول:

اميرالمومنين حضرت عمر (رض) د استخدام لپاره دوه مهم شرايط ذکر کړي وو، تقوی (ژمنتيا) او وړتيا، همدارنګه د ايکس، اپل او امازون نړيوالو کمپنيو يوه ښه تجربه دا ده، چي دوی نخبه او د کار خلك هر کال د کار لپاره انتخابوي، ځکه ئې نتيجه هم ښه وي، ځيني وخت په عامه يا خصوصي اداره کي ستونزه دا وي، چي د افرادو داخلي پوټانشيل او بالقوه ظرفيت نه سو معلومولی.

۸. د قوي وړاندوينې نه لرل:

د مديرانو له مهمو ځانګړنو يوه ئې دقيقه پيش بيني ده، مګر هغه مديران چي ضعيف دي، يا تېروتنه کوي، هغه دا ده چي اصلاً د سبا لپاره وړاندوينه نه کوي.

۹. د کارونو نه وېشل:

۱۰. د کارونو وېش د مديرانو لپاره نهايت اړين دئ، مګر له بده مرغه چي ډېری مديران ټول کارونه په خپله سرته رسوي، چي دا لويه تېروتنه ده، لهذا کارونه بايد ووېشل سي.

۱۱. مايکرو يا ذره بيني مديريت کول:

ډېری وخت د کارکوونکو سرزنش، د دوی په هر کار کي کار لرل، د صلاحيتونو نه تفويض په خپله يوه لويه تېروتنه او کمزوري دي په سرزنش سره هيڅوك وده نه سي کولی.

۱۲. د خبرو او عمل تر منځ توپير:

ډېری وخت مديريت، چي کومي خبري کوي، هماغسي عمل نه کوي، نو ځکه د باور سطحه هم د کارکوونکو ورځ په ورځ پرې ټيټيږي.

۱۳. د زحمت کشه او بې پروا کار کوونکو تر منځ بې تفاوته اوسېدل:

ځينې کارکوونکي سخت په اخلاص کار کوي، همېشه د ادارې د ودې او پرمختګ په تکل وي او ځينې مسئوليت له غاړې اړوي، نو مدير بايد دا تشخيص کړي، که د مکافاتو او مجازاتو اصل نه وي، ستونزه ده، هغه دا چي د کار خلك زړه ماتي کېږي.

۱٤. د سلسله مراتبو له منځه وړل:

هره اداره کي ټاپ ليول مديران وي، ځيني وخت مديران د لوړي کچي پر ځای له ټيټي سره راپور او راز شريکوي، ځيني وخت کارکوونکي په ډېرو عادي کارونو کي مدير ته مراجعه کوي.

۱۵. نا رضايتيو ته نه پاملرنه:

يوه لويه ستونزه ئې دا ده، چي نارضايتی ئې ناديده نيسي، ځينې وخت کارکوونکي ناراضه وي او دا په يوه لويه ستونزه بدلېدونکی حالت دئ، خو ځيني مديران هيڅ پاملرنه نه ورته کوي.

۱٦. غوږ نه نيول:

ځينې وخت د ځينو کارکوونکو په زړه کي ډېر څه وي، غواړي تر مدير پورې ئې ورسوي، مګر غوږ نه نيونکي مديران يوه داسې فضا رامنځته کوي چي بالاخره ښې او د کار خبرې هم کارمند نه ورسره شريکوي.

۱۷. په ژمنو کي افراط:

يوه لويه تيروتنه چي رهبران او مديران ئې کوي، دا ده چي په ژمنو کي افراط کوي، نږدې تېر وخت کي مو ږ وليدل، له ټاکنيزو کمپاينونو رانيولي، تر عادي ماموريت پوري، که په ژمنو کي افراط وسي، سخت تاوان کوي.

۱۸. په هوايي ارقامو کاذب اطمينان حاصلول:

ځيني وخت مديران د دې پر ځای چي عملاً پايلې ووينې په نادقيقو ارقامو، مالي صورت حسابونو باندي د دفتر د بندو دروازو شاته اکتفاءکوي، مدير ته په کار دا ده، چي عملاً د کار ساحه ويني.

۱۹. د باور په رامنځته کولو کي ناتواني:

باور يو مهم بحث دئ، په اداره کي چي باور نه وي هيڅ هم نه شته، نو د باور لپاره د هڅو نه کول، يوه لويه تېروتنه ده.

۲۰. د روښانه کاري برنامې نه شتون:

برنامه جوړونه د مدير له اساسي دندو ښخه ګڼل کېږي، هر مدير بايد واضحه کاري پلان ولري، بناً د روښانه کاري پلان نه درلودل يوه لويه ستونزه ده.

۲۱. د وخت نه مديريت کول:

وخت او فرصت هغه څه دي، چي د خدماتو په وړاندي کولو، موثريت او د مراجعينو په رضايت کي فوق العاده رول لري، نو وخت بايد مديريت سي، نه مديريت ئې يو ستر مديريتي ضعف دئ.

۲۲. د ژر تغيراتو غوښتونکی وي:

ځينې وخت مديران، چي نوي سيستم ته داخل سي، دوی ډېر ژر تغييرات رامنځته کوي، چي د مثبتو پايلو پر ځای منفي پايلې رامنځته کوي.

۲۳. د لومړيتوبونو نه ټاکل:

اولويت بندي د ورځنيو چارو او مديرانو لپاره جدي او مبرمه اړتيا ده، هغه مديران چي لومړيتوبونه نه ټاکي، دوی ټول د کار په جريان کي له ستونزو سره مخ دي.

۲٤. له کارکوونکو سره له حده زياته مباحثه:

ډېری وخت مديران له خپلو مادونانو سره له حده زياته مباحثه کوي، چي په اوږدمهال کي ئې اغېزي ډېرې منفي دي.

۲۵.د موږ پر ځای د زه کلمه کارول(saying “I” Instead of “We”):

په اداره کي ټول کارونه په ګروپي شکل مخته ځي او په کار دا ده، چي د موږ کلمه بايد وکارول سي، نو هغه مديران چي د زه کلمه کاروي دا يوه لويه تېروتنه ده.

۲٦. د کارمند د فيډبك نه ليست کول:

ځينې وخت کارکوونکي خپل نظريات او ملاحظې لري او د بعضې تصميمونو فيډبك شريکوي، چي دا په راتلونکو تصميمونو کي ګټه کوي، مګر د دې مهمو فيډبکونو نه ليست کول يوه مديريتي تېروتنه ده.

## اعلانات داوطلبی

### اعلان مزایده (٦) باب دوکان واقع مندوی مربوط ظاهرشاهی مارکیت ناحیه اول شاروالی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد(٦) باب دوکان واقع مندوی، ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شاروالی کابل را برای مدت ( ۱ ) سال بطور جداگانه به شکل آفر سربسته به اعلان مزایده می سپارد.

۱.یک باب دوکان نمبر۱٦۹ به مساحت ۱۱,۵مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ٤۱۵۰۰) افغانی.

۲.یک باب دوکان نمبر۱۰٤ به مساحت ۵,۸۵ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۹۸۰۰) افغانی.

۳. یک باب دوکان نمبر۱۰۲ به مساحت ۵,۷٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۳۵۰۰) افغانی.

٤. یک باب دوکان نمبر ٦۱ به مساحت ۵,۹٤ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۲۲۲۰) افغانی.

۵. یک باب دوکان نمبر۱٦٤ به مساحت ٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۸۰۰۰) افغانی.

٦.یک باب دوکان نمبر۱٦۳ به مساحت٦ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۲۵۰۰) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦ ۳٤,۵۱۷۱

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق بالاتر از مبلغ فوق باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۳۱ اسد ۱٤۰۳ الی ۱۳سنبله ۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱٤منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز.

شماره های تماس(۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤_۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷).

تاریخ مجلس مزایده ۱٤ سنبله ۱٤۰۳ به ساعت(۹:۰۰) قبل از ظهر برگذار میگردد.

### اعلان داوطلبی موازی (۲۳۰۰۰)متر مربع زمین مربوط ناحیه ۹ شاروالی کابل

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی(۲۳۰۰۰) مترمربع زمین شامل هنگر، دفتر و تشناب واقع سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شاروالی کابل را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۳۱۰۵۰۰ ) افغانی برای مدت ( ۳ ) سال به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر)٦۹,۲۸۳۳۱ ۳٤,۵٤۵٦

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۳۱ / اسد /۱٤۰۳ الی ۱۳/ سنبله /۱٤۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز،

شماره های تماس:(۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷).

مجلس داوطلبی ۱٤سنبله به ساعت(۹:۰۰) قبل از ظهر برگذار میگردد.

### اعلان داوطلبی ۲ جایداد دولتی مربوط مستوفیت ولایت پروان

مدیریت عمومی املاک مستوفیت ولایت پروان جایداد ذیل را بطور جداگانه به منظور افزایش عواید امارت اسلامی افغانستان به شکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱- موازی (۵,۵۲) جریب زمین (سرای تیل ) ملکیت ریاست حوزه فرعی دریایی غوربند - چاریکار دارای کوردینات (طول البلد ۵۲۵۳۳۷ وعرض البلد ۳۸۵۹۷۷٦ ) واقع شهر چاریکار مرکز پروان را با قیمت ابتدایی ماهانه فی جریب زمین مبلغ (۹۰۵۰۰) افغانی.

۲- تعداد (۸) باب غرفه ملکیت ریاست فواید عامه دارای کوردینات (طول البلد ۵۱۵٦٤٤ و عرض البلد ۳۸۷٤۷۱۰ ) واقع شهر چاریکار مرکز ولایت پروان را با کرایه ابتدایی ماهانه فی باب غرفه مبلغ (۵۵۵۰) افغانی.

اشخاص حقیقی و حکمی واجد شرایط که خواهش اجاره و یا کرایه گرفتن جایدادهای فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خویش را بعد از تاریخ ۱٤۰۳/۵/۳۰ الی ۱٤۰۳/٦/۱۹ مدت (۲۱) یوم به اداره مستوفیت پروان مدیریت عمومی املاک دولتی بسپارند و شرطنامه را ملاحظه نموده پول حق الاشتراک بدون بازگشت را پرداخت نمایند.

مجلس مزایده در حضورداشت مزایده کننده گان واجد شرایط در مدیریت عمومی املاک مستوفیت ولایت پروان تحت نظر هیت مزایده به تاریخ ۲۰ سنبله ۱٤۰۳ تدویر میگردد البته اسناد ناوقت رسیده بعد از ضرب الاجل تعین شده رد میگردد.

آدرس: مدیریت عمومی املاک مازاده دولتی، مستوفیت ولایت پروان.

شماره تماس: ۰۷۷۰۷۱۰٤۱۷

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)







## ازبکستان او افغانستان د (۲,۵) بیلیون امریکایي ډالرو په ارزښت (۳۵) د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړل





د اکیپریس ـ AKIpress په نوم قرغیزستانۍ رسنۍ د افغانستان او ازبکستان د نوي سوداګریزي زمینې په اړه ریپورټ خپور کړی دئ، چي وايي افغانستان ته د ازبکستان د لومړي وزیر عبدالله اریپوف د سفر په ترڅ کي دواړو ملکونو د (۲,۵) بیلیونو/ ملیارډو امریکایي ډالرو په ارزښت د سوداګرۍ او پانګوني تړونونه لاسلیک کړل. ریپورټ دا ډول تړونونه پر دوو طبقو وېشلي دي، چي وايي په دې تفاهملیکونو کي د (۱,٤) بیلیون ډالرو په ارزښت (۱۲) د پانګوني تړونونه او د (۱,۱) بیلیون ډالرو په ارزښت (۲۳) سوداګریز تړونونه شامل دي. یاد تړونونه یو لوړ سیکټورونه په ځان کي رانغاړي، چي په دې لړۍ کي د کرني، انرژۍ، زېربناوو او تولید په څېر برخې شاملي دي. دا چي یادو دواړو هیوادونو د دوه اړخیزو سوداګریزو چارو په اړه خبري وکړې؛ په دې اساس یاد ملکونه تمه لري، چي سږکال د سوداګرۍ کچه یو بیلیون امریکایي ډالر او په راتلونکي کي درې بیلیونو ډالرو ته لوړه کړي. ریپورټ زیاتوي، چي د ازبکستان لومړي وزیر د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند تر لیدني وروسته د ریاست الوزراء له سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر صاحب سره هم خبري وکړې، چي په ترڅ کي ئې د ګاونډیو هیوادونو ترمنځ د همکاریو پر بېلابېلو موضوعاتو بحث وسو. په دې لیدنه کي ازبکستان ډاډ ورانديي کړی دئ، چي د (٤,۸) بیلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د ټرانس ـ افغان اورګاډي پټلۍ په جوړولو کي له کابل سره مرسته وکړي. مولوي عبدالکبیر صاحب ریپورټ ته دا خبره تائید کړې ده، چي په لویو سیمه ایزو پروژو؛ لکه: تاپي (TAPI) او کاسا - ۱۰۰۰ کي اسلامي امارت برخه واخلي او یادونه ئې وکړه، چي د داسي لویو پروژو پلي کول د افغانستان د ثبات او پرمختګ له پاره خورا مهم ګامونه دي. پر دې سربېره ریپورټ د شانګهای د همکاریو سازمان غونډې – SCO ته هم اشاره کړې ده، چي وايي اسلامي امارت د کابل د ګډون په اړه ور باندي غور کوي. اکیپریس ورپسې کاږي، چي عبدالله اریپوف و ویل، چي په ازبکستان کي د نوي افغان سفیر د ټاکلو پرېکړه سوې ده، چي وايي ډېر ژر به خپله دنده پیل کړي او رسماً به اعلان سي. ریپورټ په کابل کي د ازبکستان له خوا د تولیداتو درې ورځني نندارتون پرانیستلو ته په اشارې سره وايي، چي په دې نندارتو کي له (۲۰۰) څخه ډېر تولید کوونکي، چي نیږدې د اقتصاد د (۳۰) سیکټورونو استازیتوب کوي خپل تولیداتو په کښي وړاندي کړل.

# MoF Hosts MAIL as Ministers of Finance, Agriculture Discuss 'Reinstating New Revenue Sources, Collecting National Revenues'





Hon. Minister of Finance, Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund has met with Hon. Minister of Agriculture, Irrigation and Livestock (MAIL), Maulawi Attaullah Omari and discussed several crucial nationwide issues. In this session that was attended by the deputy ministers of the aforementioned ministries and a number of directors, enhancing better coordination between the secondary units of both ministries, stabilization of telecommunication antennas at nationwide, reinstating new revenue sources, collecting national revenues in a transparent manner, and discussing the issues of reinstating previous remnants were discussed and the necessary decisions were taken. Eventually, some issues were assigned to the technical committees; therefor after the technical and professional process rules-based actions will be carried out in this regard.

**Ministers of Finance and Agriculture discussed reinstating new revenue sources, previous remnants and collecting national revenues. In this session, indispensable decisions were taken and technical committees were assigned for some crucial issues.**

# Mobile Surveillance Staff Nets Smugglers, Seizes Imported Contrabands in 4 Provinces Amid Hard Patrolling



The brilliant 'mobile surveillance staff' of General Directorate of Customs of MoF seized scores of contrabands in different areas of Farah, Nimroz, Herat and Kandahar provinces during last week, which the smugglers planned to bring the illicit clandestinely to Afghanistan. Among the seized contrabands are 72 tons and 750kg of cement, 5,208kg of tomato paste, 1,424kg of macaroni, 1,067kg of chocolate, 420kg of medicine, 2,340kg of beans, 1,500kg of dishwashing liquid and 50 cartons of shampoo. "The aforementioned contrabands and accused persons have been handed over to the relevant customs for further proceedings", added the officials. It is worth mentioning that the mobile surveillance staff of MoF is firmly working throughout Afghanistan for eradicating the illegal transitions and assures the nation for not allowing anyone to export or import contrabands.

### د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

### ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همېشه در خدمت شماست!

اګر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



### د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷٥٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af